مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

حافظ احمد نصرت ۲۰۱۸/۰۱/۲۲

جعلي ژورنالېزم

د رسنیو اهمیت نن سبا دومره زیات سوی چې د یو حکومتي نظام په درې ګونو(قضائیه، مقننه، اجرائیه) قواوو سربېره اوس څلورمه قوه بلل کېږي، دا چې رسنۍ په رښتیا هم د حکومتي نظام په ټینګښت او پاېښت او همدارنګه په سقوط کې فعال رول لوبوي.

نو په کار ده چې د دې مسلک څخه یوه داسې په زړه پورې او روا ګټه واخیستل سي ،چې خلک پرې حقیقي ژوند ته متوجه سي او په ټولنه کې سته ستونزې ورسره حل سي، ددې لپاره چې له دغه ډله ییزو (انځوریز،غږیز،چاپیزو،خواله رسنۍ او...) رسنیو څخه مثبته ګټه واخېستل سي،موږ ته په کار دي چې د رسنیو رسالت د ټولنیز چاپېریال په رڼا کې وپېژنو. په دې کې هېڅ شک نه سته چې په موجوده عصر کې رسنیو مو ځوان کهول په افراطي ډول منحرف کړی دی،بې دیني او سیکولریزم یې په بې ساري ډول په افغاني مسلمانه ټولنه کې خپاره کړي دی او په ټوله کې پروژې دي چې د غرب له خوا تمویلېږي او د افغانانو په ژبو (پښتو /دري) افغانانو ته په ذهن کې د بې دینۍ او بې غیرتۍ نظریې او مفکورې پیچکاري کېږي.دا خو یې یو څو ساري ما وړاندې کړل خو که د ټولنې متن ته مراجعه وکړو او د خلکو نظریات په دې اړه واخلو پایله به یې منفي وي،نو داسې دې څوک و نه انګېري چې ګواکې موږ د ژورنالېزم مخالف یو، نه! ژورنالېزم ته موږ په درنه سترګه ګورو او د ټولنې یو ارزښت یې ګڼو. ژورنالېزم یو مسلک دی،نو لازمه ده چې ددې په هکله لنډ او خلاصه مالومات ولرو،او په داسې طریقه یې استعمال کړو،چې د هېواد،ټولنې ،کلتور،عقیدې او د هېواد د بیا رغونې په لار کې ورڅخه کار واخلو زه د ژورنالېزم او خبرپال سخت درناوی لرم او ورته په درنه سترګه ګورم ځکه چې زه خپله هم دې برخه کار کوم او ځیني شیان تر نورو ماته ښه معلومېږي.

اوس خبر داده چې خبریالي او خبرپال کیدل یو پاک او له احساس څخه ډک مسلک دی او په ټوله نړۍ کې یې خلک درناوی لري ولې په افغانستان کې ددې سپېڅلي او پاک مسلک څخه څومره چې اړتیا وه ګټه نه ده اخیستل سوې او تر ډېر بریده دا سپېڅلی مسلک د شخصي او ځاني ګټو ښکار سوی دی هر چاه د خبرپال له نامه څخه په استفادې له مایک او کیمرې څخه ګټه پورته کړې ده.

رسنۍ(میډیا) د حکومت او خلکو ترمنځ نښلوونکی پُل همدارنګه د نړۍ د ولسونو ترمنځ د پېښو په اړه د معلوماتو رسولو وسیله ده او خبرپال همداسې د ټولنې هیندارہ ده چې د ټولنې وګړي خپل ځان پکې ووینې که دا هیندارہ خیرنه وي نو د ټولنې دې خدای چاره وکړئ.

او په دې کې شک نسته چې افغانستان کې موږ یو شمېر همداسې خبریالان او رسنۍ لرو چې د ټولنې لپاره زهر دي ترملې ارزښتونو شخصي ګټو ته ژمن دی او ددې سپېڅلي مسلک څخه په استفادې خپل شخصي جیبونه ډکوي دولس او خاورې غم ورسره نسته خپله ژبه،مایک او کیمره د پیسو پیداکولو لپاره چلوي نه د ټولنې د دردونو او ستونزو را برسیره کولو لپاره،داسې کسانو ته خبرپال یا ژورنالیست نسو ویلای دا جعلي ژورنالیستان یا خبریالان دي د ټولیزو رسنیو قانون او ولسواکۍ له نامه څخه سوأ استفاده کوي.

مسلکي ژورنالېست هغو ژورنالېست ته ویلی سوو چې د ژورنالیستکي وسایلو له لارې د ټولنې ناخوالې دردونه د تر خلکو پورې ورسوي.

. ژورنالېزم ته په اسلامي ټولنه کې یو دروند رسالت ور په غاړه دی چې د دغه رسالت په بهیر کې لاندې عمده او مهم ټکي یادولی سو:

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

لومړی: خلکو ته دحقایقو روښانه کول

دویم: د اداري فساد،اخلاقي فساد او په هیواد کي د خیانتونو مخنیوی کول

دریم: دحق او باطل ترمنځ فرق کول

څلورم: د لویدیځ د کلتوري یرغل مخنیوی

پینځم: د مسلمانانو تر منځ د یووالي او ورورولۍ عامول

شپږم: د اسلامي احکامات تر ټولو انسانانو رسول

دا او دې ته ورته ځینې شیان دي چې ژورنالیزم او خبریال یې باید ترسره کړي.

خبریال باید ډیره مطالعه ولري حد اقل په اونۍ کې باید یو کتاب مطالعه کړي،هر ورځ باید دسیمې،نړۍ له پیښو او حالاتو باخبره اوسئ.

د خبر لیکلو پروخت باید له رښتونولۍ او بې پرې توب کار واخیستل سي د پیښو او حوادثو نقلولو پروخت باید کره او رښتیني خبرونه په بې پرې توګه نقل سي ځکه د درواغو او غیر مؤثقو خبرونو خپرول له یوه خبریال څخه خلک کرکجن کوي او په رسنیز ډګر کې یې اعتماد ته هم سخت زیان رسوي چې بیا یې څوک په رښتیا خبرې هم باور نه کوي.

د خپل هېواد، سیمې او نړۍ په کچه مشهورو سیاسي ګوندونو او شخصیتونو په هکله باید پوره معلومات ولري او د هغوئ په ژوندانه او سیاسي تاریخ او تړونونو ځان خبر وساتي، د یوه کامیاب خبریال لپاره اړینه ده ترڅو د پیښو نقلولو پروخت خپله ګوندي اړیکه یوه طرف ته پرېږدي؛ حقایق او پیښې په پوره رښتونولۍ سره خلکو ته له هرقسم تعصب څخه پاکې او بې پرې توګه ورسوي.

ددې ترڅنګ ښه اخلاق باید ولري او د ټولني او ولس درد باید خپل درد وبولي که مو دا څه په یو خبریال یا ژورنالیست کې ولیدل نو پو ه سئ چې رښتنی او مسلکي خبریال دی که یاد پورته ذکر سوو ټکو ته یې پام نه کاوه نو معلومه خبره ده چې جعلي خبریال دی او ددې پاک مسلک څخه ناوړه استفاده کوي.

پای

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ